
د ښځو د سولې لنډیز – د ۲۰۲۱ کال د اپریل میاشت

د لنډمهاله حکومت په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **۲۵۰۰ تنه ښځو په هرات، ننګرهار، بلخ، هلمند، تخار، بامیان، کندهار، دایکندي، پنجشېر، جوزجان، فراه، فاریاب، بادغیس، بغلان، کونړ او پکتیا ولایتونو کې د احتمالي لنډمهاله حکومت په اړه د ۲۰۲۱ کال د اپریل میاشتې د ښځو د سولې د لنډیز په نظر اخیستنه کې ګډون وکړ.**
- **٪۶۹،۴ ګډونوالو وویل چې د سولې لنډمهاله حکومت رامنځته کولو څخه مخکې (که چېرې د خبرو اترو په ترڅ کې دواړه لوري په دې باندې تو افق وکړي) باید لومړی په اوربند باندې هوکړه وشي او ٪۲۳،۹ وویل چې د تاوتریخوالي د کمولو ژمنه به یو مناسب شرط وي.**
- **۷۳،۴۴ ګډونوالو وویل چې د سولې احتمالي لنډمهاله حکومت ولسمشر باید په ډیموکراټیک ډول وټاکل شي. ٪۱۴،۹۶ وویل چې نړیواله ټولنه باید ولسمشر وټاکي، او ٪۷،۱۶ وویل چې د خبرو اترو لوري باید ولسمشر وټاکي.**
- **٪۵۴،۲۴ ځواب ویونکې په دې باور وو چې په موقت حکومت کې باید واک "مرکزي شي"، ٪۲۳،۵۲ وویل چې "باید مرکزي شي خو ولایتونو ته ترډې زیات واک ورکړل شي"، او ٪۱۵،۲۴ یې وویل چې ښه به دا وي چې واک "غیر مرکزي شي".**
- **٪۷۶،۴ ځواب ویونکو وویل چې لنډمهاله حکومت باید له ۴۰-۵۰٪ له ښځو څخه متشکل وي تر څو "ټول شموله" وي، ٪۱۵،۲ وویل چې ۳۰-۴۰٪، ۴،۹۲٪ سلنه وویل چې ۲۰-۳۰٪، او یوازې ۲،۲۹٪ وویل چې له ۱۰ څخه تر ۲۰ سلنه.**

شالید او د سروې پوښتنې: د دې میاشتې سروې د سولې د هوکړه لیک د مسودې په اړه د افغانو ښځو په نظرونو باندې متمرکزه ده چې د امریکې متحده ایالاتو له افغان حکومت سره شریکه کړه او هغه چې تمه کېږي په ترکیه کې یوه کنفرانس کې به یې په اړه بحث وشي. د هوکړه لیک مسوده، څرنګه چې د رسنیو لخوا خپره شوه، له درېو برخو جوړه ده: (۱) د یوه نوي اساسي قانون او راتلونکی افغان حکومت لپاره لارښود اصول، (۲) د سولې لنډمهاله حکومت، د هغه د امنیت او حکومتوالۍ قوانین او د اساسي قانون د بدلونونو لپاره د لارې نقشه، او (۳) د یوه تلپاتې او بشپړ اوربند لپاره د موافقې وړ اصول. د دې په ځواب کې، طالبانو ویلي دي چې هغوی د هوکړه لیک مسوده ځیړي، په دې حال کې ولسمشر غني یو درې پراویز پلان جوړ کړی دی: (۱) د سیاسي جوړجاړي او یو دایمي اوربند پر سر هوکړه چې د نړیوالو لخوا یې ځارنه وشي، (۲) ولسمشریزې ټاکنې او د سولې یو حکومت رامنځته کول، او (۳) د یو اساسي چوکاټ جوړول، د مهاجرینو راستنول، او پرمختګ. طالبانو په رسمي توګه دې پلان ته ځواب ندی ویلی خو ویلي یې دي چې له امریکې سره یې د درېو میاشتو لپاره، چې د ۲۰۲۰ کال له ډسمبر څخه پیلېږي، د تاوتریخوالي د کموالي وړاندیز شریک کړی دی.



له شپږو ولایتونو (هرات، بامیان، کندهار، بلخ، هلمند او تخار) څخه متمرکز ډله ییز بحثونه:

له ګډونوالو څخه د سروې د نتایجو په هکله پوښتنه وشوه او دا چې هغوی به خپله څرنګه ځواب وویلی وای.

کله چې وپوښتل شول چې په سروې کې ښځو ولې فکر کاوه چې دا مهمه ده تر څو د لنډمهاله حکومت له رامنځته کولو څخه مخکې پر اوربند باندې هوکړه وشي، ګډونوالو وویل چې اوربند کولای شي د دوو لوړیو تر منځ باور رامنځته کړي. د هغوی په نظر، باور یو مهم عنصر دی ځکه چې د سولې لنډمهاله حکومت به د هغو دوو لوړیو تر منځ له باور څخه پرته رامنځته کول، یوه بریالی تجربه نه وي. ګډونوالو همدارنګه وویل چې اوربند د دې لپاره چې په موقت حکومت کې د تاوتریخوالي له زیاتوالي او د ملکي تلفاتو له زیاتوالي څخه مخنیوی وشي، اړین دی. د هغوی په باور، پرته له اوربند نه، د تاوتریخوالي په کچه کې د زیاتوالي او د ملکیانو د مړینې د زیاتوالي امکان لوړ دی، او دا به د سولې د لنډمهاله حکومت رامنځته کېدل او ثبات له ننګونې سره مخ کړي. ځینو ګډونوالو وویل چې تر څو چې جګړه روانه وي، د لنډمهاله حکومت رامنځته کول ناشونې دي. یو ګډون کوونکي وویل چې، "د یو قانوني حکومت رامنځته کولو لپاره ټاکنو ته اړتیا ده او ټاکنې له اوربند پرته ناشونې دي."

همدارنګه مو له ګډونوالو څخه پوښتنه وکړه چې آیا ټاکنې به د سولې د لنډمهاله حکومت د ولسمشر د ټاکلو لپاره یوه سمه تکلاره وي او که نه. ځرنګه چې ښځو زمور په سروې کې ویلي وو، د متمرکز ډله ییز بحث د ګډونوالو زیات شمېر هم وویل چې ټاکنې د سولې د لنډمهاله حکومت د ولسمشر د ټاکلو لپاره یوازینۍ قانوني تکلاره ده. کله چې ترې وپوښتل شول چې څه د دې باعث کېږي چې ټاکنې یوه قانوني تکلاره وي، ګډونوالو ټینګار وکړ چې خلک دا حق لري چې د خپل مشر په ټاکلو کې ونډه واخلي. هغوي همدارنګه یادونه وکړه چې ټاکنې خلکو ته دا فرصت ورکوي چې د ټېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې خوندي کړي. د یادونې وړ ده چې د ګډونوالو یو اقلیت په دې باور وو چې د لنډمهاله حکومت لپاره د ټاکنو ترسره

کول به د وخت د محدودیتونو، په موقت حکومت کې د دوو ښکېلو لوریو تر منځ د یو منل شوي حقوقي چوکاټ نه شتون، او د جعل امکان له کبله چې د سولې د لنډمهاله حکومت رامنځته کېدل له ننکونو سره مخ کړي، عملي تکلاره نه وي.

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مهز ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره ځلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د کډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې کانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې کانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې کانو او مخامخ سروې کانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې ریې راټولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوریو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تاییدِ د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کچه کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغانې ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مهز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ رده - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا وړتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.